مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور
۲۰۲۶/۰۸/۱۰

# مخ په کړنګ دی

مخ په کړنګ دی
نظام دې ړنګ دی
ته هم لمبه شوې
هماغه جنګ دی

پر ما چې بل و
هماغه اور دی
پرون پر ما و
نن ستا په کور دی

موږ پېرې و زغمهٔ
ته يې هم زغمه
چې لږ خبر شې
زما له غمه

ښکه کړاو د جنګ
ښکاري چې سخت دی!؟
ملت دې ما غوندې
ښه سم بد بخت دی!؟

لوږه او تنده
دې تجربه کړه!؟
په سرو لمبو کې
دې شپه رڼه کړه!؟

زما عظمت ته
به ښه حیران يې
چې زه دنګ غر يم
او ته ډېران يې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولئ

د اور تـوپـان کــي
هم دنګ ولاړ يم
ستــاسـو په ژبــه
يو لوی پهاړ يم

تــه پــه پـؤکــي
د نـړېـدو يــې
د مخ لـه ځمکي
په ورکـېـدو يې

لـــه آسيـــا دې
نقشه پــاکـېـږی
زمـوږ ارمـان بــه
پرې پـوره کېږي

باور


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ